DAILY
اراده
دافغان نشراتي مرکزطي هڅوا که ورځپاڼه

سال ششم شماره ۸۳
شماره مسلسل ۹۵۰
دوشنبه ۱۵ حوت ۱۳۸۴ هـ ش
۵ صفر المظفر ۱۴۲۷ هـ ق
6 March, 2006

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

PROPERTY OF PACKU
AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER AMRC

فساد اداری ونبود زمین سرمایداران را به مشکل روبرو ساخته است

مسوولین آیسا یا اداره حمایت از سرمایه گذاری کشور میگویند: کمبود زمین سرمایه گذاران را به مشکل روبرو کرده است. عمر زاخیلوال رئیس این اداره به بی.بی.سی گفت: نبود برق وزمین وفساد اداری ونبودن امکانات قرضه های دراز مدت ازمشکلات عمده برای سرمایه گذاران درافغانستان است. اوهم چنان افزود که درشرایط فعلی کشور عده زیادی از سرمایه گذاران به جای تولید در واردات وصادرات سرمایه گذاری میکنند واین مانع ایجاد شرکت ها میشود او خواستار توجه دولت به این مسأله شد.

له کاره د ګوښه شوو کار کوونکو په ملاتړ لاریون

د هرات ولایت د کمرک په کړي دي په داسې حال کې سل ګونو تنو کارکوونکو او سوداګرو د دغه ولایت د کمرک د رئیس مرستیال او یو شمیر کارکوونکو له کاره د ګوښه کیدو له امله لاریون وکړ. لاریون کوونکو دغه کار یو سیاسي عمل و باله د مالیې وزارت له کار څخه ګوښه شوی کارکوونکي په جعل کاري او د بدو په اخیستلو تورن

چې د مالیې وزارت د خپرونې مسوول عزیز شمس په دولتي ادارو کې ریفورم او سمون یو اړتیا وګڼله او وی ویل چې د هرات ولایت په کمرک کې د کارکوونکو له خوا جعل کاري رشوت اخیستل او هم له دندو څخه د ناوړې ګټې اخیستلو پینې موجودی دي.

کشته شدن یکتن از نیروهای ائتلاف

دریک درگیری میان نیروهای ائتلاف ومخالفان مسلح دولت درولایت کندهار یک تن از نیروهای ائتلاف ودوتن از مخالفین دولت کشته شدند. سخنگوی نیروهای ائتلاف میگوید که نیروهای ائتلاف مشترکاً در تفاهم با قوای امنیتی به اجرای گزمه

تهاجمی خویش علیه دشمنان ادامه خواهند داد وی میگوید ما طالبان وفعالیت های دشمنانه شان را درهم خواهیم شکست ومبارزه مان را در تخریب مخفیگاه آنان ادامه داده واجازه نمی دهیم تا هراس افگنی درافغانستان دوباره ظهور نماید این درحالیست که حملات شورشیان درجنوب درچند روز اخیر افزایش یافته است سخنگوی وزارت دفاع کشور علت افزایش را درمنسجم شدن مجدد نیروهای مخالفان میداند.

کاناډایي عسکریي په تبر ووا هه

د افغانستان په جنوب کې یو کاناډایي عسکر سخت ټپي شوی دی په دغه عسکر پرون د کندهار ولایت د شاولي کوټ په ولسوالۍ کې د یوې قومي غونډې په مهال د یوه تن له خوا د تبرګي وار شوی په افغانستان کې د کاناډایي سر تیرو لپاره یوه ویاند وویل دغه عسکر چې د شا له خوا په سر باندې په تبر وهل شوی روغتیایي حالت ښه نه دی همدا راز دغه ویاند وویل حمله کوونکی هم خای پر خای د یوه کاناډایي سر تبرې له خوا په ډزو کې وژل شوی ۴مخ



چهار ونیم ملیون مهاجر به وطن عودت نموده اند

وزارت عودت مهاجرین از امضای یک توافقنامه سه جانبه میان دولت افغانستان و هالند و کمشنری عالی سازمان ملل متحد خبر میدهد

ص۴

د تولنیزو رسنیو مخکښې قانون باطل شو

د تولنیزو رسنیو قانون د افغانستان د عدلیې وزارت له لوري په رسمي جریدې کې خپور شو د رسنیو قانون په ۹ مادو او ۴۲ فصلونو کې د ولسمشر حامد کرزی له لوري توشیح شو د دغه قانون په جوړیدو سره د تولنیزو رسنیو مخکې قانون باطل اعلان شو.

توسعه وتطبیق برنامه های شهری

شاروالی کابل در روند توسعه شهری وتطبیق برنامه هایش دیروز دکان های کنار جاده قلعه چه مربوط ناحیه هشتم را ویران نمود اما شماری ازمالکین این دکان ها از شاروالی کابل شکایت دارند ومیگویند که شاروالی پیش ازین بحران به آنها اطلاع نداده بود. اما نثار احمد حبیبی رئیس تنظیم مارکیت های شاروالی کابل میگوید: که شاروالی درنظر دارد تا بمنظور توسعه جاده ها تمام دست فروشان ودکان های کنار جاده ها را که سبب ازدحام ترافیک شده اند ازین جاها دور نماید.

دبدخشان په فیض اباد کې چاودنه شوې ده

دفیض اباد د عامې روغتیا د روغتون ودانۍ ته نږدې پرون غرمه هغه مهال چاودنه رامینځ ته شوه چې څو شپې وړاندې له دغه ځایه د بدخشان والی منشی عبدالمجید په ګډون د (پی ار تی) د موټرو یو کتار تیر شو دمرګ او ژوبلې په هکله تراوسه پوره رپوټ نشته یوازې د ۴ تنو د ټپي کیدو پخلی شوی دی عیني شاهدانو بیانوا ته ویل چې دغې چاودنې د ډیر مالي زیان اړولی دی اوکابوځلور موټر په کې سوي دي او یو هوټل او روغتون ته ډیر زیان رسېدلی دی ویل کیږي چې دغه چاودنه په یو موټر سایکل کې د ریموټ کنټرول له مخې له لرې څخه ترسره شوې ده.

د وژنو، غلا وو اوټپي کېدوپېښې

په تیره اونۍ کې په افغانستان کې د وژنو، غلاوو او ټپي کېدو ۸۶ پېښې رامینځ ته شوي دي، چې یوازې ۱۳ یې د وژنو دي. ټول ټال د دغو پېښو په تور ۱۲۸ تنه نیول شوي دي. د کورنیو چارو وزارت د جنایي جرمنیو چارواکي وویل په کابل کې د ۳ وژنو په ګډون ۳۷ جنایي پېښې تیره اونۍ رامینځ ته شوې، چې د هغو څخه ۳۰ یې پیژندل شوې او په توریې ۸۵ تنه نیول شوي دي.

سرمقاله

چرا نهالشانی را به عنعنه بدل نمیسازید؟

سرسبزی وسرسبز ساختن خانه، شهر وکشور یکی از سلیقه مردمان متمدن وکشورهای دوستدار تمدن میتواندبود. ولی درکشور ما تاکنون این امر درمحدوده‌ء تفنن قرار دارد، وبه عنعنه‌ء سراسری بدل نشده است.

سالهاست که کشور ما وشهر ما باسرسبزی وزیبایی وداع گفته است ازیکسو مردم درولایات دربرابر چشمان مسوولین وگاهی با همدستی شان به قطع وچپاول جنگلات میپردازند، ازسوی دیگر مواظبت ازجنگل وسرسبزی درشمار کارهای فراموش شده‌ء حکومتها درطی سالهای اخیر بوده است.

درحالیکه درختشانی وسرسبز ساختن وحفاظت محیط زیست یکی از وظایف مبرم حکومتها به شمار میرود، که درگذشته کمتر به آن پرداخته شده است.

سال گذشته برخی ادارات ازجمله شاروالی کابل دست به نهالشانی زد، مگر ازبیشتر آن نهالها اکنون خبری نیست. بخصوص که بیشترینه نهالها درتپه‌ء شیرپور غرس گردید.

پرسش اینست که چقدر ازآن نهالهای غرس شده، مواظبت و وارسی صورت گرفت وبه چه تعداد از آنها همین اکنون موجود هستند؟

اکنون که کمتر از دو هفته به پایان سال مانده بهتر است که ادارات مربوط جریان نهالشانی را بصورت جدی درنظر بگیرند

ودرتمام شهر تعمیم بدهند نه اینکه این کار به جاها و نقاط خاص منحصر بماند.

ازین گذشته ادارات باید زمینه ها وامکانات مواظبت و وارسی وآبیاری ازآنرا دقیقا درنظر بگیرند.

درهر صورت تهیه و خریداری نهالها مستلزم تهیه‌ء پول هنگفتی میتواند بود وتهیه‌ء آن همه ساله برای ادارات دولتی تاحدودی دشوار است، لذا لازم است،تا وزارت زراعت بصورت خاص برای تهیه‌ء نهال وقلمه، ایجاد قوریه هایی را در شهر ها و ولایات درنظر بگیرد تا قیمت نهال ها درکشور قوس صعودی خود را نه پیماید ودسترس مردم را به آن دشوار و ناممکن نسازد.

همچنان جای آن دارد که مقررات وتدابیری برای حفاظت ونگهداری نهالها درسراسر کشور اجراء وعملی گردد.

همین اکنون ادارات مربوط شهری، فرصت آنرا دارند که به تهیه‌ء نهال وتعیین نقاط غرس آن درشهر اقدام کنند، درغیر آن با تساهل و تعلل نمیتوان کار مثبت وموثری را انجام داد، وانتظاری را که مردم ازین ادارات دارند، نافرجام باقی خواهد ماند.

اعلان فوتی

با تأسف اطلاع حاصل نمودیم که نویسنده، ژورنالیست و اولین مدیر مسوول روزنامه اراده عتیق الله پژواک به اثر مریضیکه عاید حالش بود درپشاور وفات نمود. انا لله وانا الیه راجعون.

به اطلاع دوستان رسانیده میشود که جنازه مرحومی ساعت ۲ بعد از ظهر امروز ۱۵ حوت ازقریه باغواني ولسوالی سرخ رود ولایت ننگرهار برداشته شده وبعد از ادای نماز جنازه درحضیره آبائیشان به خاک سپرده میشود(روحش شاد باد).

دمرینې اعلان

په خواشینی سره مو خبرترلاسه کړ چې دهیوادنامتو لیکوال، ژورنالیست اودارادی ورځپاڼی لمړنی مسوول مدیر عتیق الله پژواک دهغی ناروغی له امله چې ورپېښه شوې وه په پېښور کې په حق رسیدلی دی اناالله وانا الیه راجعون.

دوستانوته خبرورکول کیږي چې دروانباد دجنازې مراسم نن دوشنبه دحوت په ۱۵ نیټه دننګرهار دسره رود دولسوالی دباغوانیو په کلی کې ادا او په پلرنۍ هدیره کې خاورو ته سپارل کیږي.

روح دي شادوي.

د لندن ټرون او په افغانستان کې د امنیت ټینګښت



په هیواد کې دهمکاری د هغه ټرون پر پلي کېدو کار کېږي چې د راتلونکو پنځو کلو لپاره د امنیت، اقتصادي ودې او اداري اصلاحاتو په برخو کې هدفونه ټاکي. دغه ټرون چې د افغانستان کامپکت نومېږي اوس په لندن کې د نړیوال کنفرانس پرمهال لاسلیک شو

نړیواله ټولنه او افغان واکمن دواړه مني چې د امنیت ټینګښت لاهم په افغانستان کې دیوې بنسټیزې ستونزې په توګه پاتې دي. د افغانستان د کامپکت په لاسلیک سره دواړو لورو په دې برخه کې ټاکلې ژمنې په غاړه واخیستې. افغان حکومت به د هغه له مخې د ناقانونه وسله والو ډلو د رنګولو له لارې د سولې بنسټونه پخوي. نړیوال امنیتي ارځونه، لکه ناټو او سوله ساتي ځواکونه یا آیساف به له افغان حکومت سره د تلپاتې سولې په ټینګښت کې مرسته کوي. په امنیتي ډګر کې ننګونې دومره ستړې دي چې د افغانستان د یوه کارپوه او د نیویارک پوهنتون د نړیوالو مرستو د مرکز د مشر پروفیسر بارنیت روبین په وینا یې هواري له دا ډول همغږې هڅې پرته شونی ندی.

«په افغانستان کې د امنیت مخې ته ډول ډول ننګونې پرتې دي لومړی د حکومتي ضد ځواکونو. پاڅونکو یا ترهګرو ننګونه ده چې ځینې یې البته د پولې له هغې خوا نه - د پاکستان له لوري راځي دوی د هیواد په ځینو سیمو، په تېره بیا په ختیځ او جنوب کې ستونزې راپورته کوي. بله امنیتي ستونزه هغه ده چې په ټول هیواد کې پر هرچا اغېز غورځوي او هغه د ناقانونه وسله والو ډلو شتوالی او د نشه یي توکیو سوداګري ده. د نا امنۍ دریمه سرچینه په افغانستان کې داده چې وګړي خورا ډېر بېوزلي دي، حکومت یې خوندیتوب تامینولی نشي او خوندي خوړو ته لاسرسی نلري.»

دا ډول امنیتي ننګونې د یوه قوي افغان امنیتي میکانیزم له جوړولو پرته ځوابېدلی نشي. د لندن ټرون د غسې میکانیزم د رامنځ ته کېدو او دغه راز ټولو ټاکلو شویو هدفونود حصول لپاره، ځانګړې نېټې ټاکلې دي. د ساري په توګه، ځلور کاله افغان حکومت ته وخت ورکړ شوی چې په ټرخ کې یې تر ۷۰۰۰ کسو یو پوځ او نژدې همدغومره پولیس او سرحدي ساتونکي وروزي. د دې کار لومړني لګښتونه نړیوالو او په سر کې یې امریکا منلي دي. خو د افغانستان د مالیې وزیر ډاکټر انوارالحق احدي وایي په دغه حالت کې ډېر ژر بدلون راروان دی.

«په دغه روان کال کې د اردو په سلو کې ۲۰ بودجه د مالیې وزارت ورکړې ده، خو پر موږ فشار دی چې له بل کال نه د پوځ ټول لګښت په خپله غاړه واخلو. که څه هم د اردو انکشافي بودجه چې تر ټولو لویه ده اوس هم د امریکا له کې ددفاع وزارت د اوپراسیون رییس جنرال شېرمحمد کریمي وایي حکومت یې په دې برخه کې څو بدیلونه په پام کې نیولي دي

«که چېرې د دولت اقتصادي وس دومره نه وي چې د پوځ د معاش له عهدې ووځي، نو ایي هغه مهال پرېکړه وشي چې ېهرته د مکلفیت نظام ته ولاړ شو یا نو ایي د پارلمان د پرېکړې له مخې په اوسنیو معاشونو کې بدلون راشي او د هیواد له اقتصادي حالت سره سم عیار شي.»

د امنیتي پرسونل د ستروالي په اړه د لندن په ټرون کې ښودل شوي شمېرې وروستی ندي. مانا داچې د پوځ او پولیسو د پرسونل د څومره والي پولې وړاندې وروسته کېدلی شي. خو د افغانستان د دفاع یو مخکښ وزیر جنرال عبدالقادر وایي چې په نړۍ کې اوښتو شرایطو ته په پام سره آن پر دغه څوځله کوچني پوځ لګښت هم بېځایه دی. د هغه په وینا دې د افغانستان امنیتي سکتور په دوو برخو وویشل شي او یوازې کورنۍ برخه دې یې افغان لوري ته وسپارل شي.

«غوره به داوي چې د افغانستان د ځمکنۍ بشېړتیا موضوع له ګاونډیانو سره تنظیم شي او اردو کوچنۍ شي او پر ځای یې پیسې د افغانستان پر بیا ودانولو ولګېږي.»

د لندن ټرون هم وایي چې د افغانستان ځمکنۍ بشېړتیا ته درناوی او د افغانستان او ګاونډیانو ترمنځ د ډیالوګ او همکاری پیاوړتیا په افغانستان کې د ټیکاو ضمانت کوي. نړیوالې ټولنې د ټرون له مخې منلې چې په دې برخه کې د باور جوړوونکو اقداماتو ملاتړ وکړي. ښایي د جاپان د بهلګې یادول دلته د اقتصادي غوړېدا د یوه کوټلي پروګرام د جوړولو په ټراو ډېر مناسبت ولري. افغان حکومت د زریزې د پرمختیایي هدفونو په نامه د یوې پنځلس کلنې تګلاري په منلو سره، د امنیتي رنځ لپاره اقتصادي درمل غوره کړي دي ددغې تګلارې اصلي زړی، د ډاکټر احدي په وینا، په ودې کې د بېوزلو پلوي ده.

«د بېوزلو په ګټه ودې (رشد) هدف دادی چې اقتصاد داسې وده ونکړي چې ګټه یې د ټولنې په سلو کې یوه یا دوو ته ورسېږي او باید چې ګټه ټولو او په دې ډله کې بېوزلو ته هم ورسېږي.»

دغه ډول یوه سمبال شوې تګلاره هغو وسله والو ډلو ته د داوطلبانو د ورماتېدو مخه هم بندولی شي چې د افغانستان په کورنۍ کرکېچ کې یې تر ټولو بې ثباته کوونکي وندې درلودلې ده. پوځي کارپوهان یادونه کوي چې په افغانستان کې ټیکاو د دغو وسله والو ډلو د شمېر له کمښت سره مخامخ تناسب لري. اوس په افغانستان کې د بې وسلې کولو بله تګلاره پلې کېږي چې ډیاګ نومېږي. ددې پروګرام هدف د نژدې دوو زرو وسله والو ډلو رنګول دي چې لاهم په افغانستان کې په ناقانونه ډول فعالیت لري. د دغه بهېر د پلي کېدو لپاره دلندن په

شوی چې په مرکز او ولایتونو کې د قانوني ورتیا په لوړولو سره د کوکنارو د کر او د اپینو د قاچاق مخنیوی پیاوړی شي

کابل د نشه یي توکیو خطر منې، خو د کوکنارو پوخ شوي کلتور او دهغو اقتصادي پراختیا ته په پام سره د یوه سنجول شوي پروګرام پلي کېدل غوره بولي

د مالیې وزیر ډاکټر انوارالحق احمدي وایي:

«موږ نړیوالو ته داخبره کړېده چې اپین د ټولو لپاره مضر دي او موږ هم غواړو چې د اپینو نقش په اقتصاد کې په تدریجي ډول له افغانستان حکومت سره ولاړ شي خو دغه ډلې بې وسلې او موږ نړیوالې ټولنې ته دا هم ویلي چې د هغو خو هېڅوک دا ژمنه نشي کولی چې د ۲۰۰۷ کال په رارسېدو ته کړي باید دهماغومره اپینو په سره دې افغانستان په یو ځایي د ناقانونه ارزښت چې له منځه وسلو له منګولو خلاص وړل کېږي زموږ له شي نوزادي وایي چې د اقتصاد سره مرسته ډایاګ پروګرام په پلي وشي چې بزګر د بل کېدو سره به د منظمو شي د کرلو او د ځان ډلو ستونزه له منځه د ساتلو وس ولاړه شي، خو د انفرادي ومومي.»

وسلو راټولول ښایي له افغانستان سره د اوږده کلونه وغواړي نړیوالو هرارخیزه «په یقین سره چې په مرسته تر پنځو کلو افغانستان کې د وسلو پورې یعنې د ۲۰۱۰ ستونزه ډېره ستره ده کال تر پایه د لندن په ټاکل شوي مهال کې ټرون له مخې پخه شوي ده. خو تر دغې نېټې وروسته به څه کېږي؟

کارپوهان په دې باور دي چې ټرون په تر پنځو کلو وروسته موده کې د افغان پولیس به دغه همکاري یادونه کولی شي نړیوال به تر دغې نېټې وروسته هم افغانستان یوازې نه پرېږدي خو داچې وروسته به دغه همکاري څه ډول غوره کوي، اوس یې اتکل

له پهرنیومانبعوځخه

قسمت ششم

ما و اقتصاد ما

روح الله "حبیب"

ما در حالتی قرار داریم که هشتاد سال پیش، هشتاد فیصد نیروی کار انسان مصروف زراعت بود، ولی امروز هشت فیصد نیروی کار انسان مصروف زراعت است، هشتاد سال پیش هشتاد فیصد نیروی کار انسان در زراعت نمیتوانست برای فی نفر بالاتر از یکصد کیلو گرام مواد تهیه نماید، ولی امروز هشت فیصد نیروی کار انسان میتواند برای فی نفر تا حدود هشت صد کیلو تا یک تن مواد تهیه نماید، هشتاد سال پیش، انسان ها با نیروی بازو کار میکرد، و وسایل کار او را بیل و زنبیل، گاو وقلبه بود، ولی امروز وسایل کار انسان ها نیروی بازو بیل وزنبیل نمیباشد، امروز وسایل کار انسان ماشین، تخنیک وتراکتور و بلدوزر میباشد، اقتصاد هشتاد سال پیش را تقریباً هشتاد فیصد زراعت تشکیل میداد، ولی اقتصاد امروز زراعت یک بخش کوچکی اقتصاد می باشد.

عصر امروز عصری دیگری و عصر صنعت میباشد، ما در عصر صنعت، صنعت هیچ نداریم. وزراعت هم بشکل قدیمی و بسیار بومی داریم. وما تا هنوز هم از همان گاو وقلبه کار میگیریم واستفاده می نمائیم، وما انقدر زمین محدودی داریم که جواب گوی گاو وقلبه شده نمیتواند، واز گاو و قلبه اش بدانیم که ما چقدر زراعت کم ومحدود داریم، واگر در چنین حالات ماشین وتخنیک را در زراعت آوریم، بجز اینکه مردم خود را بیکار سازیم، فایده دیگری بدست نمی آوریم، مگر اینکه آب و زمین های خود را دو چند و سه چند از این سازیم، تا بتوانیم، معیار ماشینی شدن و معیار زراعتی بودن را تا یک حدی پوره سازیم، کشور هایکه برای فی نفر یک تن تولیدات زراعتی نداشته باشند، نمیتوانند خود را کشور زراعتی بگویند، وبشمارند، می بینید ما از اقتصاد چقدر فاصله داریم، و چقدر دور ایم، در بخش صنعت می بایست، سی تا سی وپنج فیصد نیروی کار ما کار میکرد، ولی در بخش صنعت ما هیچ کار گر نداریم.

آبیاری و برق سازی ما باهم گره خورده است، اگر مازمین می سازیم وآبیاری می کنیم، از هر بند وسر بند برق بدست میآوریم، پروژه های آبیاری ما، دو هدفه میباشد هم آبیاری میکند و هم برق تولید میکند، وقتیکه ما آبیاری را انکشاف میدهیم برق را با او یکجا انکشاف میدهیم،بند سلمه ما چنین بوده، و کوکچه ما در مامه ئی خواجه غار عین خصلت را دارد، کنر ما در سلام پور شیوه هر دو جناح خود را آبیاری مینماید، یکطرف شیوه وشگی ودشت گمبیری، وطرف دیگر کامه و گوشته، ودر عین حال برق و افری در کامه میدهد، بند سلمه هرات نیز چنین میباشد، اگر دریای سروبی، بسوی ننگرهار تغیر میسر میابد، فوراً یک قسمت آب را به سرخ رود میدهد، و قسمت آب سرخ رود فوراً برق میدهد، اگر سر آغاز دریای هلمند، از راهی کوتل اونی، ودره جلریز، بسوی کابل تغیر میسر میابد از کوتل اونی، تا میدان چندین دستگاه برق ساخته شده میتواند، عجیب کشوری داریم، باید ازکشور خود استفاده نمائیم، نشود که جهان حالتی دیگری را بگیرد وما به حالت دیگری بمانیم.

وکشور های عقب مانده را کشور های پیشرفته از کار کشیده است. آنها میخواهند به مثل کشور های پیشرفته باشند، و مثل آنها زندگی داشته باشند، حال اینکه نمیتوانند مثل آنهاباشند و به مثل آنها زندگی داشته باشند، اینها میتوانند صرف در بخش تولید وساختمان تولید واقتصاد کار کنند ودر بخش تولید، و ساختمان تولید، و اقتصاد سرمایه گذاری نمایند، تا تولید داشته باشند، واقتصاد خودرا بسازند، واگر اینها سرمایه ها را به هر راه ببرند، اقتصاد را از دست میدهند، واقتصاد را میرنجانند، دیگر چیز ها را چه میکند که اقتصاد بزرگ ازتعمیرات بزرگ بدست نمی آید، اقتصاد بزرگ از تولیدات بزرگ بدست میآید، آنچه که تولید میکند آنرا باید داشته باشیم، و هر وقتیکه به مرحله اقتصاد خوب رسیدیم آنوقت تعمیرات بزرگ و این قبیل دیگر چیزها باید داشته باشیم وبسازیم، وآنوقت میتوانیم تعمیرات بزرگ هم داشته باشیم.

کشور هاهمه یکسان نمی باشند، هر کشور بشکل خودش میباشد و هر کشور به شکل خودش میتواند اقتصاد داشته باشد.

و فقر ما علت های دارد. وعلت فقر ما این است که نفوس ما بسیار زیاد وتولید ما بسیار کم است، ما هر قدر تولید خود را زیاد سازیم، از فقر خود می کاهیم، ما برای تولید چیزی نداریم که از ان تولید بدست آوریم، اگر می خواهیم اقتصاد خود را خوب بسازیم، به تولید خود به افزایم کشور های هستند که تولید سرانه شان از سی تا سی وپنج وحتی تا سی وهشت و چهل تن میرسد، ما برای فی نفر نیم تن تولید هم نداریم، و این نا چیز ترین تولید یستیکه در جهان ما داریم، ما بسیار منابع بزرگی تولیدی داریم ولی چه کنیم که از آن کار نمی گیریم، ما در بخش های تولیدی صرف زراعت داریم، وزراعت ما هم بسیار کم ونا چیز است، اگر زراعت خود را خوب بسازیم، ما در ساحه زراعت برای فی نفر یک تن تولید بدست می آوریم، وحالا جهان تنها جهان زراعت نیست، حالا جهان، جهان صنعتیست، باید صنعت بیاید تا ثروت بیاید، صنعتی شدن کشور شرط است، ما معدن های داریم که ما را غنی می سازد ودر چنین حالت نباید بجز از تولید در فکر چیز های دیگری برایم، تلاش ما این باشد که ما چگونه بتوانیم تولید خود را که فعلاً در حدود چیزی کم ده میلیون تن است به پنجاه تا شصت میلیون تن وحتی بالاتر از این رسانیم.

اگر به این مرحله رسیدیم، دیگر از مشکل میبرایم، تا رسیدن به این مرحله ما باید از بسیار کار ها دست برداریم. وکار های حیاتی را از کار های ضروری تفریق نماییم، و کار های حیاتی را نسبت به کار های ضروری مهم بشماریم.

اقتصاد ما در حالت غم انگیز است، و اقتصاد ما همه اش در زمین است، وزمین ما به حدی کم است که محصول ان از پنج ملیون تن بالا نمی باشد، وپنج میلیون تن برای بیست وپنج ملیون جمعیت، فی نفر دو صد کیلو گرام بسیار کم ونا چیز است، اگر ما برای فی نفر یک تن تولید داشته باشیم باز هم کم ونا چیز است، می باید یک ملت بیست وپنج میلیونی هیچ که نباشد، در تمام عرصه های زندگی برای فی نفر سه تن تولید در حالیکه از دیگران سی تا سی وپنج تن وحتی تا چهل تن تولید است که جمعاً هفتاد وپنج ملیون تن تولید باشد داشته باشد، واگر نداشته باشد، زندگی کردن بسیار مشکل می باشد.

وخوبی ما این میباشد که ما کشوری خوبی برای اقتصاد شدن داریم، در جهان هر سه اقتصاد، زراعت، صنعت، ونفت در یک کشور جمع نشده و وجود ندارد، ولی کشور ما کشوری است که برای اقتصادی شدن هر سه اقتصاد را دارد، اگر یک دفعه اقتصاد متوجه ما شود ما هم صاحب اقتصاد می شویم، دیگران در پنجاه سال توانستند کشور را آباد نمایند، ما در پنج منتها شش تا هفت سال اگر خواسته باشیم می توانیم کشور را آباد نمایم، ما هم کشور زراعتی وهم کشوری صنعتی وهم کشور نفتی شده میتوانیم، ما در ساحل آمو یک ملیون هکتار زمین زراعتی خوب و عالی و قابل آبیاری داریم، و بالا تر از این در نیمروز و اصل چغانسور زمین داریم، اگر این دو ساحه را بسازیم، تولید زراعتی خود را به سه چند از این می رسانیم، میتوانیم سالانه صاحب از یک تا یک ونیم ملیون تن پخته واز سه صد تا چهار صد و حتی پنجصد هزار تن شکر شویم، ما در کشور خود به ظرفیت بیست وسه ملیون کیلوات برق، جهت تولید برق آبشار داریم، کشور ما کشور ذغال دار است، از چال تخار گرفته تا نهرین بغلان، و از نهرین بغلان گرفته تا کهمرد بامیان واز کهمرد بامیان گرفته تا درهٔ صوف سمنگان واز درهٔ صوف سمنگان گرفته تا سبزک هرات ذغال داریم. ما نفت و گاز داریم، ما در بغلان، ما در جوزجان، و ما در فاریاب وهرات، وما در کتواز نفت وگاز داریم، بزرگترین معدن مس وآهن جهان در کشور ما می باشد، اخر به این حال نمی مانیم، یک چیزی می شویم، ویک چیزی می یابیم، واگر درین موقع به نفت وگاز دست یابیم، کشوری خوبی اقتصادی شده میتوانیم، امید است که به نفت و گاز دست یابیم، نفت و گاز به سوی ما نمی آید، ما باید بسوی نفت و گاز رویم ما اگر گاز شبرغان را به کابل رسانیم از بسیار مشکلات خود می کاهیم، سوخت خود را از راه گاز تامین می نمائیم، وبرق های خود را برای صنعت می گذاریم.

درست است که نفت وگاز بسیار مهم است، ولی ما اب و زمین داریم، اگر این اب وزمین های ما را کویت وعربستان سعودی میداشت، خدا میدانست که از کشور خود چه می ساخت، دیگران یک ویا دو اقتصاد دارند اگر ما صاحب اقتصاد می شویم ما هر سه آنرا داریم.

اقتصاد ما اقتصاد دهقانیست، ما باید اقتصاد خود را خوبتر ازین دهقانی سازیم، ما برای سه ملیون هکتار زمین دهقان کافی داریم، ما باید متوجه آب و آبیاری شویم، اگر زراعت را به این حال بگذاریم و در بخش زراعت و دهقانی توجه ننمائیم دهقانان ما، دهقانی را میگذارند، و به کار های دیگری میروند، اگر دهقان یک دفعه دهقانی راگذاشت، و به کار های دیگری رفت، دیگر به دهقانی برنمی گردد، اگر یک وقتی دیگری زمین بسازیم. آنوقت دربخش کمبود دهقان گیر میمانیم، کشور ما ازهر نگاه از نگاه آب، و زمین، و دهقان، برای زراعتی شدن بسیارمساعد است، ما باید از این همه امکانات خود، از دهقان، آب و زمین خود کاه بگیریم و استفاده نمائیم، ما در بخش اقتصاد بسیار بی اعتنای ها کرده ایم ما باید اضافه از این در بخش اقتصاد بی اعتنا نباشیم.

ما آب نمی گردانیم واقتصاد می خواهیم زمین نمی سازیم وطالب اقتصاد میباشیم، فابریکه نمی سازیم ومی خواهیم اقتصاد داشته باشیم، اقتصاد ما در معدن های ماست، ما به معدن های خود دست نمی زنیم و ادعای اقتصادی شدن را داریم، به این ترتیب اقتصاد بدست نمی آید که ما می نمایم، ما پول های که می یابیم، پول ها را در راه های دیگری بمصرف می رسانیم. اقتصاد ما در تولید است، و ما باید تولید خود را زیاد سازیم، و چیزیکه تولید میکند، در پی آن برائیم.

صنعت بسیار چیزی خوبی است،ولی صنعت به مثل زمین نیست که ثابت و دایمی باشد. صنعت در هر بیست سال کهنه میشود و استهلاک میگردد. ولی زمین وقتیکه یک دفعه ساخته شد، دیگر استهلاک نمیگردد، و از بین نمیرود، زمین سازی یک اقتصاد خوب و دایمی میباشد، کشور هایکه شرایط خوبی برای زراعتی شدن داشته باشند، باید زراعت را از یاد نبرند، کشور را زراعتی، و در عین حال کشور را صنعتی سازند، و به هیچ صورت زراعت را کم از صنعت نشمارند و کم از صنعت ندانند، اقتصاد اصلا زراعت و صنعت ندارد، چیزیکه تولید میکند، آن اقتصاد میباشد، و ثابت شده است که محصولات مواد زراعتی، سال به سال بلند شده میرود ، آنهاییکه بین صنعت و زراعت تبعیض روا میدارند، آنها اشتباه میکنند، مهم اینست که ما کشور را نه زراعتی و صنعتی میسازیم.

ما هر یکی که می آئیم از خوبی خود و از بدی دیگران حرف می زنیم، و در نتیجه ما هم چیزی نمیشویم و چیزی نمی برائیم، نمی دانیم که چرا چنین است که ما در ساحه دولت داری هیچ طالع نداریم، دیگران هر مشکلی که دارند، به دولت مراجعه میکنند، ما هر مشکلی که داریم، ازدست کار کنان دولت داریم.ما فکر میکردیم که ما در ساحه اقتصادکاری نکرده ایم، شاید درساحات دیگری کاری کرده باشیم، حالا که می بینیم که ما برعلاوه از این که، در ساحه اقتصاد کار نکرده ایم، در ساحات دیگری هم کارنکرده ایم.

ما در ساحه صنعت کار نکرده ایم، که نکرده ایم ما در ساحه زراعت هم کار نکرده ایم، اگر کار میکردیم اقلاً کشور زراعتی می بودیم، که آن هم نیستیم، کشور زراعتی از چه باشیم، آب نمی گردانیم، و زمین نمی سازیم، آبادون آب گشتاندن و زمین ساختن میخواهیم کشور زراعتی باشیم؟

این یک ملیون هکتار زمین چه است هیچ که نباشد ما باید با صرف سه هزار متر مکعب آب در فی ثانیه، سه ملیون هکتار زمین میداشتیم، در جهان سه اقتصاد وجود دارد، زراعت، صنعت، و نفت، کشور ها اگر این سه اقتصاد را یکجائی داشته باشند، بسیار خوب، و اگر هر سه اقتصاد را نداشته باشند، دوی آنرا باید داشته باشند،باز هم بسیار خوب اگر صنعت ندارند، زراعت باید داشته باشند، اگر زراعت نداشته باشند، نفت باید داشته باشند، اگر در بخش صنعت صادرات نداشته باشند، در بخش زراعت صادرات داشته باشند، اگر در بخش زراعت صادرات ندارند، در بخش نفت صادرات داشته باشند نشود که هم وارد کننده مواد غذائی، و هم وارد کننده مواد صنعتی، و هم وارد کننده مواد نفتی باشند، اگر چنین باشند، این حالت، حالت بسیار بدی بوده، و این بدترین حالت اقتصادی میباشد، که ما در چنین حالت قرار داریم، ما باید ازین حالت خود را بکشیم، در بخش تولید کار کنیم، و در بخش تولید سرمایه گذاری نمائیم. هیچ چیز بالاتر از تولید برای ما مهم نمیباشد، ما در بخش تولید یک چیزی باید بالاتر از مصرف داشته باشیم، تا آنراصادر کنیم، و از محصول آن یک چیزی به کشور وارد نمائیم، کشور که وارد کننده باشد، و صادر کننده نباشد، آن کشور، کشور بسیار بدی اقتصادی میباشد.

ادامه دارد

فقر ما علت های دارد. وعلت فقر ما این است که نفوس ما بسیار زیاد وتولید ما بسیار کم است، ما هر قدر تولید خود را زیاد سازیم، از فقر خود می کاهیم، ما برای تولید چیزی نداریم که از ان تولید بدست آوریم، اگر می خواهیم اقتصاد خود را خوب بسازیم، به تولید خود به افزایم کشور های هستند که تولید سرانه شان از سی تا سی وپنج وحتی تا سی وهشت و چهل تن میرسد، ما برای فی نفر نیم تن تولید هم نداریم، و این نا چیز ترین تولید یستیکه در جهان ما داریم، ما بسیار منابع بزرگی تولیدی داریم ولی چه کنیم که از آن کار نمی گیریم.

نفت و گاز به سوی ما نمی آید، ما باید بسوی نفت و گاز رویم ما اگر گاز شبرغان را به کابل رسانیم از بسیار مشکلات خود می کاهیم، سوخت خود را از راه گاز تامین می نمائیم، وبرق های خود را برای صنعت می گذاریم.

اقتصاد بزرگ ازتعمیرات بزرگ بدست نمی آید، اقتصاد بزرگ از تولیدات بزرگ بدست میآید، آنچه که تولید میکند آنرا باید داشته باشیم، و هر وقتیکه به مرحله اقتصاد خوب رسیدیم آنوقت تعمیرات بزرگ و این قبیل دیگر چیزها باید داشته باشیم وبسازیم، وآنوقت میتوانیم تعمیرات بزرگ هم داشته باشیم.

کرزی، صاحب دې نه لولي

محمد زبیر "شفیقی"

څو ورځې وړاندې مو د وردګو د مشرانو له برکته د ارګ د افسانوي مانۍ زیارت په برخه شو، زه پردې څه نه وایم چې ولې تر اوسه هلته هم د کنډوالو نښې شته؟ آیا دا د خپلمنځي جګړو د یوه کرکجن یادګار په توګه پاتې دی چې د یوه غیر منقول موزیم د آثارو په څیر د یوه بدوخت یاد ژوندی وساتي او که نه په دې کې هم زمونږ د واکمنو څه چل پروت دی، دوی هم د هغو جهادي یارانو په څیر چې په سرو غرمو کې به په یوازې تر کوم سیوري لاندې ناست وو او د عربي شیخانو دوستي او خواخوږۍ د راجلبولو لپاره به یې د پیښور د سرو غرمو تودو خو ته تندي نیولي وو...

په هر صورت مورږ د ولسمشر ښاغلی کرزی سره د لیدو په نیت د ارګ افسانوي مانۍ ته ورغلي وو، لارښوونه راته وشوه چې جومات ته ولاړ شو، هلته به ولسمشر هم راتلو او دماسپښین له لمانځه وروسته به مو روغبړ ورسره کاوه، په جومات کې د ستر پروردګار پر عظمت او لویي د اقرار تکبیرونه زمزمه شول، سرونه په سجدو ښکته شول، ولسمشر په کومه بیړنۍ غونډه کې بوخت شو او جمعې ته راونه رسید.

په هر صورت خبره مې پر ښاغلی کرزی ده هغه په رښتیا چې پر لمانځه پابند دی، سره له دې چې په افسانوي ارګ کې اوسي، د هیواد بې پوښتنې واکمن دی، نړیوال پراخ ملاتړ یې تر شا دی، خو دی خپل ځان هم پیژني او خپل پالونکی او رب هم، وللسمشر کرزی په روژه کې روژه وي، هغه په مالي چارو کې یوازینی څوک دی چې بې ساړې امانت داري لري، تر دې چې ده د خپلې میرمنې شخصي سوغاتونه هم بیت المال ته سپارلي دي، زمونږ باور دی چې کرزی صاحب به که له واکه لاس پر سر کیږي یو سر او دوه غوږونه به ځي نه به یې د هیواد د دښتو پراخو ځمکو قبالې په نامه وي، نه به چیرته د کوم تفریح ځای او یا بانکي حساب خاوند وي، ښایي په دې حساب دی د هیواد په تاریخ کې یوازینی واکمن وي چې دومره دې له غل او غشه پاک وي.

که د ښاغلي کرزي شخصیت د یوه افغان په حیث په پورتنیو معیارونو تلونو باور مو دی چې سل نومړي به وړې، او دا یې هم یو ستر ویاړ دی، ځکه چې مورږ داسې یاران هم ولیدل چې د ښاغلی کرزی سلمه برخه واک او ځواک یې نه درلود خو نن یې د شتو او جایداد د حساب کتاب منشیان تر سلګونو زیات دی.

خو که مورږ په ارګ کې ناست د هغه کرزی په باب خبره کوو چې د هیواد واکمن دی بیا نو خبره یوازې تر لمانځه او روژې او یا مالي امانت داري پورې نه ده، دلته نور معیارونه هم په کار دي، دلته واکمن نور مسوولیتونه هم لري.

که د اسلام ستر خلیفه حضرت عمر فاروق وایي چې د فرات او دجلې د سیندونو پر سر پلونو که د کوم سپي پښه ماته شي نو له عمر (رض) نه به یې پوښتنه کیږي، نو له ښاغلی کرزی نه به بیا د (شیرپور) د ډرامې پوښتنه ولې نه کیږي، د کابل په ښار کې د شوکو، وژنو او لوټمار پوښتنه به له چا کیږي؟

آیا کرزی صاحب به یوازې په لمانځه، روژه او امانت داری د خپلو نورو هغو چارواکو ځواب هم ورکړی شي چې له «ډالر» پرته نور هیڅ نه پیژني، که پر څه پوهیږي نو یوازې د خپلو دریشیو او نیکټایي ګانو په مود ښه پوهیږي چې ایټالیایي دی او که فرانسوي او یا لندني؟!

که له حضرت عمر (رض) څخه د فرات اود جلې پر سیندونو د پلونو پوښتنه کیدای شي چې ولې سوری وو او ولې د سپي او یا وري پښه پکې ماته شوه؟

نو له کرزی صیب نه به د هغو ۱۴ نیم ملیارده ډالرو پوښتنه ولې نه کیږي چې څه ډول غیب شول؟ هغه ډالر چې په کچکو راګرځول شوي وو او زمونږ اولس یې د نړیوالو د احسان تر بوج لاندې دی.

آیا کرزی صاحب به پردې ځواب ځان وژغورلای شي چې ما خو د خپلې میرمنې شخصي سوغاتونه هم د ملت بودجې ته وسپارل؟!

ښاغلی اولسمشر چې تل ولسي مشرانو ته په وینا کې دغه خبره تکراروي چې اولادونه مو ښوونځیو ته واستوئ! آیا ده د معارف او ښوونې پر چارو هم همدغسې ورکسان ګومارلي دي؟ آیا په نورو ارخونو کې هم خبره همدغسې ده که څنګه؟

دې پوښتنو ته به دقیق ځواب قضاوت پوهان او عالمان ورکوي، زه یوازې همدومره ویلای شم هغه د کلیوال آشنا خبره که خبره «برو برو» وه نو خیر خیرت دی، خو که رښتیا پوښتنه وه بیا نو ډیره سخته ده. زه د کاینناتو د ستر پالونکي پر عظمت، بې ساري مهربانۍ او رحم باروي یم. خو ګرانه ده چې خبره «برو برو» وي، ځکه چې بیا خو به د څو یارانو پر سره له ملیونونو تنو سر ډیر زیاتې شوی وي، زما او ښایي د ډیرو هیوادوالو د زړه له کومې دا هیله او دعا وي چې ښاغلی کرزی د یوه هیواد د واکمن او مسوول په توګه هم له هغه ستر ازمیښت څخه بریالي راووزي چې د خپل شخصي کرکټر په اړه یې ځان سپین کړی دی.

یا زه نه وای

یا زه...!

کاناډایي عسکر...

پې شوی کاناډایي عسکر
په کندهار کې د نړیوالو
ځواکونو یوه روغتون ته
لیږدول شوی چې له هغه
ځایه به جرمني ته د ناټو د
سر تېرو لپاره روغتون ته
ولیږدول شي
له بل پلوه یوه بل کاناډایي
عسکر چې د علاج لپاره
جرمني ته لیږدول شوی وو
مړ شوی دغه کاناډایي
عسکر د هغو پنځو سر
تېرو په ډله کې وو چې تېره
اونۍ د افغانستان په
جنوب کې د یوه ځانمرګي

برید په مهال ټپي شوي وه.
د کاناډا حکومت ویلي
دي چې دغه راز بریدونه
به په افغانستان کې د دوی
پر ماموریت
اغیزه ونه کړي
په افغانستان کې د نړیوال
ایتلاف په لیکو کې لږ
تر لږه دوه زره کاناډایي سر
تېري په دندو بوخت دي
دوی د افغانستان په
جنوب کې د القاعده او
طالبانو پر ضد د عملیاتو
تر څنګ د بیا رغوني
کارونه هم کوي

چهار و نیم ملیون مهاجر...

بر اساس این توافقنامه مهاجرین افغان برای بازگشت داوطلبان شان به کشور به دسته های مختلف تقسیم شده اند در حال حاضر ۳۶ هزار افغان در هالند به سر می برند که گفته میشود ۶ هزار شان جواز قانونی ندارند.

این توافقنامه در جریان سفر وزیر امور عودت مهاجرین به هالند صورت گرفته است. وزیر عودت مهاجرین میگوید که دولت افغانستان کشور هالند و کمیشنری عالی سازمان ملل متحد توافق کرده اند تا مهاجرین افغان که جواز قانونی برای پناهندگی را ندارند به شکل داوطلبانه از آنکشور به افغانستان بر گردند که برای شناسایی این افراد آنان به دسته های مختلف تقسیم شده اند. به گفته وزیر عودت مهاجرین در حال حاضر ۴۵۶ تن از افغانان از کشور هالند به افغانستان بر گشتند و ۳۶ تن به شکل اجباری از آنکشور اخراج شدند آمار نشان میدهد تا اکنون ۴ نیم میلیون افغان از کشور های مختلف به افغانستان بر گشته اند.

په پکتیاکي دپلتني عملیات پیل شوي

په پکتیا ولایت کې دلوا پرمرحدي پوستي
تیره شپه نامعلومو وسله والوکسانو دملي اردو
پوستي برید وکړپه خوست کې دملي اردو
داول نمبر لوا قوماندان برید جنرال
اکرم سامع دحوت په ۱۴ نیټه پرژواک
خبري اژانس ته وویل: چې دغه برید تیره
شپه دپاکستان پولې ته نږدې دتخریبي
عناصرو برید ونه زیات شوی دی.

دری او یا مړه اونهه تېیان

افغان پولې ته نږدې د شمالي وزیرستان د میرانشاه او میرعلی په سیمو کې د پاکستاني ځواکونو او طالب پلویانو ترمینځ د فوځي چورلکو په ملتیا درنده جګړه شوې چې په کې ۷۰ تنه طالب پلویان، ۳۰ تنه پاکستاني عسکر مړه او ۹ تنه نور ژوبل شوي دي سیمه ایز خایي اوسیدونکي له خپلو کورونو څخه تښتیدلي دي او په سیمه کې حالات دم ګړی لاهم ډیر ترینګړی دي ملکي وګړو ته هم په کې د امریکا ولسمشر جورج بوش د پاکستان په دغه درنده جګړه کې په کتنه او لیدنه بوخت و پاکستاني چارواکي کبله یې مالي زیان رسیدلی دی دغه برید پر داسې مهال شوي چې د امریکا ولسمشر یو شمیر خپلواک خبریالان د وژل شویو کسانو شمیره ۱۱۰ تنه بولي.

اراده
زیرنظر هیات تحریر انتشار مییابد
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: سهراب دیدار
اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر ۹۵)
موبایل: ۰۷۰۲۲۲۷۲۶
ERADA Daily
روزنامه آزاد وملی نشریه مرکزنشراتی افغان
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: انجینیر محمد جمیل "امیری" و سبحان الله "داودزی"
چاپ: مطبعه مرکزنشراتی افغان
قیمت یک شماره ۳ افغانی
Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor:Suhrab Didar (Mobil phone :070222726)
eradadaily@hotmail.com
eradadaily@yahoo.com